لنډیز یوه کره کتنه

# د شیعه د شخصیه احوالو د قانون تر شا د قانون او پالیسي جوړولو بهیر



AREU

واحد تحقیق و ارزیابی افغانستان

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې میشته یوه نا پیلې څېړنیزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکې څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي. همدا راز نوموړې اداره هڅه کوي څو په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې کلتور ته د تحلیلي ظرفیت د پیاوړې کولو او د فکرونو او بحثونو د آسانولو له لارې په فعاله توګه وده ورکړي. ددې ادارې اصلي موخه دڅېړنې له لارې د افغانانو د ژوندانه ښه والي دي.

نوموړې اداره په ۱۳۸۱ لمریز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندویه ټولنو په مرسته په کار پیل وکړ اود یو مدیره هیات درلودونکی دي چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخیزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا یې استازیتوب کیږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلي بودجه د فنلند، ناروي، سویډن، سویزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. ددې ادارې ځانګړې پروژې د افغانستان د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت (FOSIA)، آسیایي بنیاد (TAF)، اروپایي کمیسیون (EC)، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري (UNHCR)، د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (UNICEF)، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق (UNIFEM)، او نړیوال بانک له خوا یې مالي ملاتړ کیږي.

# سريزه

د ۱۳۸۲ کال راهيسې د افغانستان په پارلماني سيستم کې د قانون يوې لايحې په آرامۍ سره خپله لاره وهله. دغه قانون تر هغه مهاله د هيواد په رسنيو کې ياد نشو تر څو چې ولسمشر حامد کرزي د ۱۳۸۷ کال د کب په مياشت کې هغه امضا او توشيح نکړ. په همدې مهال د دغه قانون خبره د هغو مرستندويه ملکونو مشرانو ته ورسيده کوم چې د افغانستان د دولت جوړولو د هڅې لپاره په لندن کې د جی ۲۰ په کنفرانس کې سره راغونډ شوې وو. د د نوموړې قانون ۲۴۹ مادو هم د نړيوالو رسنيو پام ځان ته را واړوه کوم چې د شيعه ښځو پر حقونو يو لړ بنديزونه په کې شامل وو او ډير ژر دغه قانون د لويديځو خبريالانو له خوا «د جنسی تيريود قانون» په نامه ونومول شو. دغه مساله په نړيوالو رسنيو کې وسپړل شو او د بيلا بيلو ښکيلو کسانو تود غبرګون يې را وپاراوه.

دغه څيړنه هڅه کوي څو ددې کيسې بل اړخ ، هغه بهير په کوم کې چې د شيعه د شخصيه احوالو د قانون لايحه په يوه قانون بدله شوه څرګند کړي: د هغه د پيل څخه بيا تر هغه مهاله چې د عدليې د وزير تر نظر لاندې وو[1]. د دې بهير د يوې پلټنې له لارې، چې موخه يې د بن د تړون څخه وروسته په افغانستان کې دقانون جوړولو او په دې شرايطو کې د قانون جوړونې د تجربې ، سياسي کلتور او ظرفيت په هکله لکه څرنګه چې د ملي شورا د غړو ، مدني ټولنې، کورنيو رسنيو او نړيوالې ټولنې له خوا درک شوی د پوهاوي تر لاسه کول دي. د نوموړې څيړنې په موندنو کې د ټولو پورتنيو ډلو ونډه په پام کې نيول شوې ده. دغه څيړنه د پاليسي جوړونې د بهير په توګه د شيعه د شخصيه احوالو د قانون په اړه د مهمو ذينفع ډلو چې په نوموړې بهير کې ښکيل وې، ددوی تر مينځ د اختلافاتو او د اچې د قانون جوړونې د کړنلارې له نظره څه مفهوم لري، پر نظرونو د تمرکز له لارې، يوه هر اړخيزه پوهه را مينځ ته کوي. د شيعه د شخصيه احوالو د قانون اړوند دغه څيړنه ، د هغو څيړنو يوه برخه ده چې د افغانستان د څيړنې او ارزونې د ادارې له خوا د بن د تړون څخه وروسته افغانستان کې د پاليسو بهير تر څيړنې لاندې ونيولو. د پاليسۍ څيړنې په دې هڅه کې دي تر څو په افغانستان کې د پاليسو جوړولود ماهيت او ظرفيت په هکله پوهاوی تر لاسه کړي څوپه دې هکله چې پاليسي څه ده، د پاليسۍ

[1] د ۱۳۸۸ کال چنګاښ په ۱۲ نيټه افغانستان ټايمز راپور وکړ چې د عدليې وزارت د شيعه د شخصيه احوالو پر قانون غور وکړ، د هغه ۱۲ مادې يې ليرې کړې او نور تعديلات يې په کې راوستل او دغه بيا کتل شوی قانون د وزيرانو د شورا له خوا تصويب شو. د چنګاښ په ۱۸مه نيټه د مدني ټولنې ډلې يو سر خلاصی ليک ولسمشر ته واستولو چې په هغه کې ويل شوې وو چې تغيرات له ابهامه ډک دي او د دوی يو زيات شمير سپارښتنې په نظر کې نه دي نيول شوي. خو له دې سره هم ولسمشر اصلاح شوی قانون توشيح کړ او دغه قانون د ۱۳۸۸ کال د زمري د مياشتې په ۵ نيټه په رسمی جريده کې خپورشو چې د دغی نيټې سره سم نافذ هم شو. دغه راپور په ځانګړې ډول پر هغه موده باندې چې د دغه قانون له طرحې له پيل څخه تر هغه پورې چې عدليې وزارت ته د غور لپاره واستول شو او هغه شور و ځوګ چې د هغه د توشيح سره سم منځته راغی، تمرکز کوي.

دجوړونې د بهير په اړه، او هغو بنسټيزو ګټو، خبرو اترو او هغه کړنو چې د هغه په وړاندې تګ کې مرسته کوې پوهاوی را مينځ ته کړي.[2]

د پالیسی د جوړولو څخه ښه درک نه یوازې د پای د ټکې په مفهوم دی بللکې د پالیسی د اجنډا د جوړولو او پالیسی جوړونې د رسمونو او په پای کې د هغه د درک، د کړنو د سمون او بدلون په هیله یو اړین ګام دی.

## کړندود

دغه څېړنه لاندینیو پوښتنو ته د ځوابونو په لټه کې ده:

الف) د دغه قانون د وړاندې کولو او د ولسمشر د دفتر له خوا د هغه د چټک تصويب د نوښت تر شا هڅوونکي لاملونه کوم وو؟

ب) هغه ځانګړی بهیر کوم ووچې نوموړی قانون له هغې لارې پېیل شو؟ او څرنګه به د افغانستان په نوې حکومت کې د قانون جوړولو، حکومت جوړولو، د قانون د پراخ حاکمیت سره سمون ولري؟

ج) د افغانستان مدني ټولنې د دغه قانون د جوړولو او توشيح په بیلابیلو پړاونو کې کومه ونډه لوبولې ده؟

د) د نړیوالو مشرانو او بهرنیو رسنیو دغبرګون اغیزه د دغه قانون په وړاندې څه وه؟

هغه معلومات چې په دغه څېړنه کې يې شننه شوې، د **۵۱** ځوابويونکو سره په انفرادي توګه د نیمه جوړښتي مرکو له لارې تر لاسه شوې دي. چې نوموړې مرکې زیاتره د **۱۳۸۸** د غويي او غبرګولي په میاشتو کې په کابل کې تر سره شوې دي. که څه هم چې ددې لیکنې په بهیر کې د شیعه د شخصیه احوالو قانون خپلې ودې ته ادامه ورکړه او معلومات په اصل کې پر هغو پیښو باندې تمرکز لري چې په هغه پړاو کې پیښ شوې دي. په همدې ډول معلومات د هغو کسانو سره له ډله ایزو مرکو څخه تر لاسه شوې دي چې د **۱۳۸۸** کال د وري

د پالیسی یوه پراخ تعبير داسی اټکل کیږي ښايي د معين شویو موخو اولاس ته راغلو کړنو (د ستراتيژۍ د پراختيا، سرچينو ورکولو، پلی کولو او داسی نورو په ذريعه) د خلکو د ښيګڼې تر نامه لاندې تعريف شي. د پالیسی پروسه هغه وسیله ده چې د هغه له لارې پالیسي درک کیږي، بحث پرې کیږي، بیانیږي او رسمي بڼه غوره کوي او د پلی کولو او عملی کولو د کړنلارې په معنا ده.

[2] په دغه راپور کې د هغې ناوړې وضعې له امله چې د دی مسلې په اړه پیدا شوی وو، د ځواب ويونکو نومونه نه دي یاد شوې. ټول کوښښونه تر سره شوي وو تر څو د شیعه د شخصیه احوالو قانون په اړه د بیلابیلو نظرياتو خاوندانو سره مرکه وشي. د پارلمان ټولو غړو زمونږ غوښتنې ته د مرکو لپاره ځواب ورنه کړاو مونږ ونه شو کړای چې د عدليې د وزارت د نورو ځواب ويونکو سره مرکه وکړو

په میاشت کې د نوموړې قانون پر وړاندې یې لاریون تر سره کړ. په دغه مرکه کې د ملي شورا ۹ غړې (۵ تنه ښځې او ۴ نارینه؛ ۸ تنه د شیعګانو څخه)، په افغانستان کې د شیعه ټولنې ۸ تنه پوهان ؛ د مدنی ټولنی ۱۷ ښځینه استازې ؛ د حقوقی سمون او بشری حقونو هغه سازمانونه چې په دغه مسأله کې فعال وو ؛ د ښځوالې ټولنې څخه ۲ تنه استازې (د ملګرو ملتونو د ۲ ادارو په ګډون) ۵ تنه هغه شیعه ښځې چې د ۱۳۸۸ کال د وري د میاشتې د دغه قانون په وړاندې د لاریون تنظیمونکې وې ؛ په هیواد کې د ننه د خپلواکو رسنیو ۲ تنه استازې؛ او د عدلیې وزارت او سترې محکمې استازو ګډون درلود.

په دغه څیړنه کې د یاد شوې قانون په اړه د افغان ښځوالو رسنیو د پوښښ یوه شننه، پارلماني سلا مشورې، د وزارتونو او نور دولتی اسناد، او همدارنګه د شیعه د شخصیه احوالو د قانون په اړوند د ښځوالې ټولنې او افغان مدني ټولنې تر منځ د همغږۍ د غونډو ملاحظات هم شامل دي.

## شالید: د شیعه د شخصیه احوالو د قانون د بهیر سپیناوی

دافغانستان د ۱۳۸۳ کال اساسی قانون د لومړي ځل لپاره شیعه مذهب ډلې ته یې ددې حق ورکړ څو په خپلو شخصی مسایلو کې خپله فقه(شیعه فقه)وکاروي. په افغانستان کې بل هیڅ پخواني قانون د نورو فرقو فقې ته اجازه نه وه ورکړې او زیاتره مرکه شویو کسانو دا وویل چې د شیعه د شخصیه احوالو قانون په افغانستان کې د شیعه او هزاره ټولنو یوه او ږد مهاله غوښتنه وه [۴]. د افغانستان د اساسی قانون د ۷ څپرکې ۱۳۱ بند داسې صراحت لري:

> محکمی د اهل تشیع لپاره په شخصیه احوالو پورې اړوندو قضایاو کې د تشیع د مذهب حکمونه د قانون د احکامو سره سم تطبیقوي.
>
> په نورو قضیو که چیرې په دې اساسی قانون یا نورو قوانینو کې صراحت موجود نه وي، او د قضیې دواړه خواوې په شیعه مذهب پورې تړلې وي نو محکمې قضیه د دي مذهب له حکمونو سره سم حل او فصل کوي.

هغه مهال چې د اساسی قانون د تسوید کمیټه فعاله وه، د تشیع خلکو د دې مادې لپاره پراخه هڅه او تبلیغات کول. په پای کې نوموړې هڅې د شیخ محمد آصف محسنی په مشری تر سره کیدې چې یو افغان شیعه دیني عالم دی چې په ایران کې یې زده کړه کړې او یوه موده د حرکت اسلامي وسله والې ډلې مشر وو، چې وروسته

[۳] په افغانستان کې د شیعه ګانو اکثریت په قوم هزاره دي.

په يو سياسي ګوند بدل شو.[۴] دغه ماده د شيعه وګړو لپاره د شخصيه احوالو د يوه خپلواک قانون د تسويد په مفهوم وه، خو پرته له دې چې دا مشخص شي دغه قانون به د شيعه قوانينو د ګڼ شمير عقيدوي ډلو له کومې فقهي سرچينې څخه بايد واخيستل شي.

د رپوټونو د اختلاف سره سره، دهغه مرکه شويو کسانوله ځوابونو څخه دغه نتيجه لاس ته راځي چې دغه قانون ځينې برخې د لومړي ځل لپاره د تشيع ملا يانو د شورا له خوا د شيخ محمد آصف محسني په مشرى د ۱۳۸۳ او ۱۳۸۲ کلونو تر منځ، ظاهراً د حکومت د کوم رسمي حکم څخه پرته، تسويد شوې وې. ګڼ شميرمرکه شويو کسانو دا ويل چې ددغې قانون تسويد کوونکې د ايران د مشهد په ښارکې ميشت افغان ملايان وو، چې د ايران د ستر مذهبى مشر آيت الله خميني د تحرير الوسيله دوه ټوکيز فقهي کتاب تر کلکې اغيزې لاندې وو. وروسته بيا ښاغلې محسنى دغه مسوده ولسمشر ته ړاندې کړه او ولسمشر د يوه فرمان په ترځ کې د عدليې وزارت ته يې دنومورې قانون د تسويد لارښونه وکړه.

د مدني ټولنې او د ملي شورا د غړو(د مرکه شويو کسانو ) د ويناوو پربنسټ ، دغه قانون مخکې له دې چې ولسي جرګې او مشرانو جرګې ته راشي، د ملي شورا غړې عبدالرب رسول سياف له خوا وړانديز وشوچې دعادي کړنلارې برخلاف چې پرهرې مادې په بيلابيله توګه غور کوي، بايد دا دې د يوې ټولګې(package) په ډول تصويب شي دغه وړانديز چې د دغه قانون پر وړاندې د سياف د لومړي مقاومت څخه وروسته وشو، تر هغه چې نوموړى قانون د سنى قانون سره پرتله شو نو د هغه مهم تناقض لرونکې مادې ترې ليرې کړاى شوې. دغه مادې د متعه( صيغه )( لنډمهاله واده ) په شمول او د يوې کورنۍ څخه ددوو ښځو سره د واده کولو حق (لکه ترور او خورزه يا وريره )هم راځي. وروسته له دې کله چې دغه قانون له نظره تير شو نو د ۷۰۰ مادو څخه ۲۴۹ مادو ته کم شو. کله چې د شيعه د شخصيه احوالو قانون ملى شورا ته لاره وموندله، نو د رسنيو د لږ پوښښ او د عامه بحث د نه هڅولو له امله خلک په دغه مسأله کې لږ ښکيل وو. د مدني ټولنې بنسټونه هغه مهم استازې وو چې د دغه قانون پرمنځ پانګې يې خپله انديښنه څرګنده کړه. د هغوى ونډه د بحثونو په راپارولو او همدارنګه د پارلمان څخه بهر ددغې بهير په اغيزمن کولو کې د پام وړ وو. مخکى له دې چې په ملى شورا کې د دغه قانون لپاره رايه ورکول پيل شي، چې په اصل کې په ۱۳۸۷ کال ټاکل شوى وو، د مدني ټولنى زيات شمير سازمانونود ملى شورا د غړو د ملاتړ له لارې د دغه قانون يوه کاپى يې تر لاسه کړه. دوى له بيلابيلو لارو څخه خپلې هڅې منسجمې کړې څو خپلې انديښنې د نوموړې قانون د منځپانګې د ځينو برخو په هکله څرګندې کړي ، او د ځانګړو تعديلاتو وړانديز وکړي.

[۴] ځينى وختونه دا سى يادېږي: آيت الله محمد آصف محسنى او يا شيخ محمد آصف محسنى

چې دا کار په دواړه شیعه موسسو ، لکه د کاتب د لوړو زده کړو انستیتیوت او وروسته د کابل په لویدیځ کې د معرفت د لیسې او همدارنګه د ښځو د سازمانونو [5] او نورو ټولنیزو عدلي ډلو کې تر سره شو. وروسته بیا یو شمیر روزل شوې ښځې چې په هیڅ یوه ځانګړې سازمان پورې یې تړاو نه درلود ددوی سره یوځای شوې. دوی د ولسي جرګې د رئیس، د شیعه ملایانوا له شورا او د پارلمان له دواړو شیعه او سني غړو سره لیدنې وکړې. دوی ویل چې د پارلمان یو زیات شمیر شیعه غړې د دغه هڅو ملاتړ نه کاوه او داسی انګیرل کیده چې د پارلمان سني غړې په ټولیزه ډول په دې بهیر کې ښکیل نه وو. د مدنی ټولنې لپاره هغه مادې د اندیښنې وړ وې چې د ښځو پرګرځیدو را ګرځیدو د بندیز لګولو ، او میړونو ته د هغوی غاړه ایښودنه، او د میړه پر وړاندې د ښځو جنسي مجبوریتونه، د نجونو لپاره د واده عمر (په اصلی مسوده کې ۹ کلن) او د ماشومانو عمر په هغه وخت کې چې حضانت د مور څخه و پلار ته ورکول کیږي[6]. نوری اندیښنې د ساري په ډول په یوه ماده کې پنځمه ښځه، متعه ته اجازه ورکول ( موقتي واده، آن د څو ساعتونو لپاره) ، او داسې نور مسایل هم تر بحث لاندې ونیول شول. د مدني ټولنې سازمانونه چې د پارلمان د متحدو غړو سره یو ځای کار کوي، په دې وتوانیدل چې د دغه قانون لپاره رایه ورکول وځنډوي چی په عادی ډول د ملی شورا د مهال ویش له مخې باید د ۱۳۸۶ کال د سلواغې په میاشت کې تر سره شوی وای، ترڅو دوی پر دغه قانون په تفصیل سره غور وکړي او هغه تعدیلات چې له نورو شیعه فقهي سرچینو څخه لا س ته راغلې وو وڅیړي. ددغه ځنډ په موده کې، د افغانستان د بشرد حقو نو خپلواک کمیسیون(AIHRC ) او د مدني ټولنو یو زیات شمیر سازمانونو د کاتب د لوړو زده کړو د انستیتیوت سره په ګډه یو درې ورځنی سیمینار یې پر نوموړې قانون د بیا غور او په هغه کې د سمون راوستلو په موخه په لاره واچولو.[7] دوی د ایران د قم د ښار څخه دینی پوهان او همدارنګه د مدنی قانون متخصصین[8] را بللې وو کوم چې د دغه قانون په اړه یې نظریات وړاندې کړل او همدا راز د قانون یوه بیا کتل شوې مسوده یې جوړه کړه. د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون یوه چارواکې پیښه داسې توضیح کړه:

[5] د بیلګې په ډول، د افغانو ښځو د زده کړې مرکز، په افغانستان کې د ښځو او ماشومانو لپاره د بشری مرستو ټولنه.

[6] په حنیفیه فقه کې د طلاق په صورت کې د وړو ماشومانو سرپرستی د مور په غاړه ده مخکې له دې چې د هغوی سرپرستی پلار ته وړکړشي او دقیق عمر یې په بیلا بیلو فقو کې سره توپیر لري.

[7] د ثانوي دورې څخه وروسته یوه موسسه ده چې په نړدې وختونو کې منځته راغلی او د دواړو مذهبی او سیکولر عالمانو څخه جوړ شوې.

[8] یو زیات شمیر افغانی عالمان چې په ایران کې اوسیږي او همدارنګه ایرانی مذهبی عالمان او دمدني قانون یو ایراني متخصص د ډاکټر حکمتیا په نامه په کې برخه درلوده

موږ داسې معلومات درلودل چې ښاغلي محسنی دغه قانون په مشهد کې د خپلو شاګردانو سره کوم چې د ایران سره ډیرې ښې اړیکې لري، تسوید کړ. نو موږ غوښتل چې په خپله د ایراني شیعه دینی پوهانو پوهه واورو. دوی همدا راز د ایران څخه ځینې افغانی پوهان یې هم را وبلل. سیمینار ډیر په زړه پورې وو. په هغه کې د پارلمان غړې، او د شیعه عالمانو د شورا څخه شیعه پوهانو هم ګډون درلود. په پای کې دوی پریکړه وکړه چې دغه قانون ډیرې نیمګړتیاوې لري. هغوی په کې ډیر بدلونونه راوستل. او وروسته بیا موږ یوه نوې مسوده جوړه کړه. د بدلون زیاتره برخه د واده، د واده دعمر، د ماشومانو دواده ، مهر؛ په اړه وه او د یو زیات شمیر نورو بدلونونو وړاندیز هم وشو[9]. دملی شورا د غړو دوینا پر بنسټ که څه هم چې د وړاندیزنو یو زیات شمیر په ملی شورا کې د محسنی د ټلوالې له خوا رد شول، خو د مدنی ټولنې ډلې د ملی شورا د همکارو غړو په مرسته و توانیدل چې په ۴ مادو کې بدلونونه راولي. دغه بدلونونه د واده په عمر کې د نجونو لپاره ۱۲ کاله او هلکانو لپاره ۱۸ کلونو ته زیاتوالی دی، د هلکانو د حضانت عمر یې له ۲ کلونو څخه ۷ کلونو ته او د نجونو د حضانت عمر یې له ۷ څخه ۹ کلونو ته زیات کړ، او په ځینو فقرو کې چې ښځه باید د کور د وتلو لپاره د میړه څخه اجازه واخلي، زیات شرطونه وضع کړل. په داسې حال کې چې د مسودې یوه زیاته برخه په خپل حال پاتې شوه خو دغه بدلونونه خورا مهم وو او په دې بریالي شوه څو د ښځو پر وړاندې د ډیرو تبعیضي موادو ځینې یې کم کړي. دملی شورا د غړو دوینا پر بنسټ که څه هم چې د وړاندیزنو یو زیات شمیر په ملی شورا کې د محسنی د ټلوالې له خوا رد شول، خو د مدنی ټولنې ډلې د ملی شورا د همکارو غړو په مرسته و توانیدل چې په ۴ مادو کې بدلونونه راولي. دغه بدلونونه د واده په عمر کې د نجونو لپاره ۱۲ کاله او هلکانو لپاره ۱۸ کلونو ته زیاتوالی دی، د هلکانو د حضانت عمر یې له ۲ کلونو څخه ۷ کلونو ته او د نجونو د حضانت عمر یې له ۷ څخه ۹ کلونو ته زیات کړ، او په ځینو فقرو کې چې ښځه باید د کور د وتلو لپاره د میړه څخه اجازه واخلي، زیات شرطونه وضع کړل. په داسې حال کې چې د مسودې یوه زیاته برخه په خپل حال پاتې شوه خو دغه بدلونونه خورا مهم وو او په دې بریالي شوه څو د ښځو پر وړاندې د ډیرو تبعیضي موادو ځینې یې کم کړي.

تر هغه دمخه، د زیاتو مدني ټولنو د سازمانونو له خوا یولاس لیک شوی لیک د ولسمشر دفتر ته واستول شو چې په ترڅ کې یې په نوموړې قانون کې د تعدیلاتو غوښتنه شوې وه ، خو ظاهراً د دوی دغه غوښتنه رد شوه، او د ۱۳۸۷ کال د کب د میاشتې په ۱۸ نیټه په یوه غونډه کې د قانون په اړوند یې خپلې اندیښنې یوار بیا ولسمشر سره شریکې کړې[10]. هغه سازمانونه چې په دغه قانون کې د تعدیلاتو غوښتونکې وو، داسې پریکړه یې وکړه چې که چیرې د دوی هڅې په ولسي جرګه کې ناکامه شي نو دوی به خپلې هڅې د مشرانو

۹ د لیکوال مرکه کابل د ۱۳۸۸ کال د غبرګولی ۲۰ نیټه

جرګې له لارې متمرکزې کړي. د مشرانو جرګې ظاهراً دغه قانون وروسته له هغه چې سترې محکمې پرته له کومو بدلونونوڅخه پرې بیا غور وکړ، ولسمشر ته د امضا لپاره واستول شو. د ۱۳۸۸ کال د کب په میاشت کې وړاندې تر دې چې قانون نافذ شي ولسمشرددې قانون د امضا لپاره ۱۵ ورځې وخت درلود، مدنی ټولنو رسنیو ته مخه کړه. دوی داسی انګیرله چې دا به وروستنۍاو اړین ګام وي، که څه هم چې نړیوالې چټکې غندنې د ولسمشر کرزي له خوا د خواشینۍ د ښکندولو لامل شو. دا نه تعدیل شوې مسوده وه چې د ۱۳۸۸ کال د سلواغې په میاشت کې یو ځل بیا دپارلمان په اجنډا کې شامله شوه. په ولسی جرګه کې رایه ورکونه تر سره شوه. که څه هم چې د پارلمان د غړو تر مینځ په دې هکله چې آیا د دغه قانون متن ته رایې ورکړل شوې دي او که هغه یوې پانې ته چې په هغه کې سیاف وړاندیز کړی وو چې د شیعه ګانو لپاره به جلا قضایي سیستم شتون و نه لري، د پام وړ مغشوشتیا شتون درلود. چې وروسته بیا دا خبره تایید شوه چې په ټولیزه توګه او یا د قانون یوې برخې ته هم د پارلمان د هیڅ یوه مجلس له خوا رایه نه ده ورکړل شوې، خو د هغه پر ځای ولسي جرګې په لاندی متن سره یوه اعلامیه صادره کړې ده:

> د ۱۳۸۷ کال د سلواغې په ۱۱ نیټه د شنبی په ورځ ولسي جرګې د تشیع د شخصیه احوالو قانون داسې تصویب کړ:
>
> د شیعه او سنی عالمانو د یوی کمیټې په موافقت د نوموړې قانون د ځینی مادوحذف، او د اساسی قانون د ۱۳۱ مادې سره سم ستره محکمه د تشیع د شخصیه احوالو د قانون د پلی کولو لپاره چې ۲۴۹ مادو څخه جوړ دی لاره هواره کړي. د دغه قانون پلی کول جلا محکمه او قاضیانو ته اړتیا نه لري[11].

دغه اعلامیه په مشرانو جرګه کې تر بحث لاندې و نه نیول شوه، خو د ډلود مشرانو له خوا، د نورو استازو له خبرتیا پرته تصویب شوه، آن دا چې د دوی یو زیات شمیر یې تر ډیر وخته د نوموړې قانون په اړه یې معلومات نه درلود. یو ناظر دغه ته دغولونې خطاب وکړ او ویې وویل "چې دغه اعلامیه داسې لیکل شوې وه لکه څرنګه چې قانون تصویب شوی وي، حال دا چې داسې نه وو"[12]. له دې سره سره چې په پارلمان کې ددغې قانون په اړه رایې نه وې اخیستل شوې او همدا راز دیو تصویب شوې قانون پر ځای د دغه شان لنډې اعلامیې په کارولو کومه سابقه نه درلوده، داسې ښکاریده چې د دغې اعلامیې موخه دا وه تر څو په محاکمو کې د قانون د اصولو د په کارولو د پیل په اړه سترې محکمې ته د یو مشورتي سند په توګه کار وکړي نو سترې محکمې هم دغه قانون د ولسمشر دفتر ته واستولو چیرې چې د ولسمشر له خوا ظاهراً د یو او یا څو تنو سلا کارانو په سلا مشوره، امضا شو.

---

[10] د لیکوال مرکه کابل د ۱۳۸۸ کال د غبرګولی ۲۷ نیټه

[11] د افغانستان د پارلمان مرستندویه پروژه د حقوقی برخې لنډیز، ۱۳۸۸ کال د غبرګولی میاشت

## مهمې موندنې

د دې څېړنې موندنې د تشيع د شخصيه احوالو د قانونتر شا کړنلارې کې يولړ مهمې بې نظمۍ را بربنډې کړې. د يو قانون په توګه چې د مذهبي ارزښتونو پر اساس جوړ شوی ، د قانون د منځ پانګې په اړه د شيعه ټولنو بيلابيلو ډلو بيلابيلې طمعې درلودلې. ځينی مهم کسان چې غوښتل يې پر دغه قانون باندی نفوذ ولري، د يو داسې اجنډا په لټه کې شول چې د پارلمان له لارې خپل کنټرول وساتي، يعنې په پروسه کې روڼوالې شتون نه درلود. د دوی توان چې غوښتل يې داسې عمل وکړي، د پارلمان د غړې يا ديوې سياسي ډلې په توګه د هغوی د مسوليت سره تړاويې نه درلود بلکې د هغو متحدينو څخه چې په واک کې وو سرچينه يې اخيستې وه، خو دا زياتره د قومی اود منحل شويو مليشاوو ډلو سره يې اړيکه درلوده. د دغه په اصل کې سياسی ستراتيژی عموميت پيدا کول او د ذينفع ډلو له خوا د عادی کړنلارې نه تعقيبول په مقننه سيستم کې د زيانمنې ښکارندوی دی. هغو کسانو چې د دغې بهير د څارنې مسوليت يې درلود (لکه د پارلمان رئيس او د پارلمان سکرتر) د دغو بينظميو په کمولو بريالي نه شول او دا د پارلمان په سياست کې د ذينفع ډلو د نفوذ څرګندوی دی. په پروسه کې د تخنيکي انحرافاتو ډير مثالونه چې د دغه قانون د رامينځ ته کيدو ځانګړتياوې دي لکه د نوموړې قانون تسويد د دولت د چوکاټ څخه بهر د هغه وګړو له خوا چې اړوند قانونی وړتيا يې نه درلودلې، په داسې حال کې چې په عادی توګه ټول قوانين د هغوی د منځ پانګې د په پام کې نيولو سره د اړوند وزارت له خوا تسويد ته اړتيا لري. [13] ځيې داسې فکر کوي چې د عدليی وزارت يواځې هغه کړنلاره تصويب کړه چې د محافظه کارو شيعه ملايانو ديوې بهرنۍ ذينفع ډلې له خوا جوړه شوې وه. د علمي ټولنو ځواب ويونکو د نوموړې قانون د تسويد په کارکې د وړتيا درلودونکو ملايانوپه نه شتون يې سختې نيوکې وکړې او درې مهمې ستونزې يې په ګوته کړې:

په قانون کې د مناسبو حقوقي اصطلاحاتو نښتوالی؛ د مادو جوړښت او ترتيب ، اود داسې موادو شتون چې د اساسی قانون، د بشر د حقونونړيوال قانون او د نورو شيعه فقهو سره په تضاد کې دي.

يوه بله مهمه کمزورتيا چې په دې بهير کې را برسيره شوه هغه د پارلمان د مشر يونس قانوني کمزوري وه، چې ويې نشو کړای چې په دغه بهيرکې د انحرافاتو، د ساري په ډول د يوې مناسبې رايې اخيستنې نه شتون په ګوته کړي. د دی سره سره، د قانون په اړه د ولسي جرګې د اکثرو غړو له خوا د نظرياتو نښتوالی او همدارنګه پر هره ماده په بيلا بيله توګه د رايو نه اخيستل بله ناکامی ګڼل کيږي. د پارلمان په غړو کې د بحث د ژوروالې په اړوند بيلابيل نظرونه موجود وو. يو زيات شمير وايي چې د دغه قانون په اړوند ډير لږ بحث تر سره شو او

[13] څرنګه چې د افغانستان د پارلمان د مرستندويه پروژې د حقوقی برخی لنډيز، کې وژباړل شو ۱۳۸۸ کال د غبرګولي ۱۵نيټه

کله چې دغه بحث هم وشو نو د پیاوړو مجاهدینو چې غوښتل یې دغه قانون دې اصلاح نه شي، تر اغیزې لاندې وو. په دغه بهیر کې تر ټولو د پام وړ انحراف د پارلمان په دننه کې هغه پریکړه وه چې د هغه پر بنسټ باید د هغه قانون پرځای چې د پارلمان د دواړو مجلسونو له خوا پرې رایې واخیستل شوې او په بشپړه توګه پرې بحث شوی، هغه اعلامیه وکاروي کوم چې محاکمو ته یې مشوره ورکوله څو قانوني مادې عملي کړي. د پارلمان د زیاتو غړو په منځ کې د دغه اعلامیې د موخې په اړه د پام وړ مغشوشتیا شتون درلود. د ملی شورا ځینو غړو داسې باور درلود چې دوی یوائې د دغه قانون لپاره رایې ورکړې او ځینو بیا داسې فکر کولو چې دوی یوائې د هغه اعلامیې لپاره رایې ورکړې چې د هغه پر بنسټ به د شیعه د شخصیه احوالوپر قانون د څارنې لپاره به بیله محکمه موجوده نه وي،او ځینی نور بیا وایي چې دوی په یاد نه لري چې د کومې رایې ورکونې لپاره بلل شوې وي. د ملی شورا یوه غړې وویل چې "زیاتو کسانو پرته له دې چې پوه شي چې دا ددې قانون په اړه به وروستی رایه ورکونه وي رایې یې ورکړې"[14]. دا روښانه ده چې په پارلمان کې د قانون د اصلي جوړونکو په دستور یو شمیر خلک ټاکل شوې وو چې قانون د تسوید دعادی کړنلارې څخه را وګرځوي، یا په هغه کې ښکیل نه وو او یا شاید په ځینو مواردو کې د قانونی پړاو د نښتوالې تر پوښتنې راوستلو څخه په ویره کې وو. په تیرو ۴ کلونو کې د ملی شورا په ظرفیت کې د پام وړ ودې سره سره، خو د قانون جوړونې د کړنلارې د اساسی ټکو په پام کې نه نیولو توان دا وښودله چې مهمی تشې د سیستم پر مشروعیت زیان بښوونکې اغیزې لري. څرنګه چې په پارلما ن کې یو بهرنۍ څارونکۍ وایي: "موږ یو انتخابي پارلمان لرو، خو موږ کله کله کولای شو په پټه دملی شورا د خبرتیا پرته پر یوڅه د ولسمشر کرزي امضا تر لاسه کړو"[15].

داسې ښکاري چې په سیستم کې د لاس وهنې وړتیا د هغو کسانو په منځ کې ډیره ژوره ده چې د ملاتړ او سیاسی شبکو ته، چې د قومی او ملیشوي اړیکو له لارې را مینځ ته کیږي لاس رسي لري نه د ایډیالوژیکي ملاتړو او یا سیاسي غوښتنو چې د پراخ وضاحت غوښتونکې دي. د لوبې د ډګر د ګډوډتیا سره سره، د شیعه د شخصیه احوالو د قانون د ملکیت پر سر د سیالو نظریو او ننګونو په پای کې د دغه قانون د منځ پانګې په وړاندې د پام وړ مخالفینو د رامینځ ته کیدو او د ذینفع ډلو تر مینځ د بحثونو او خبرو اترو د فعالیدو لامل وګرځید. د شیعه د شخصیه احوالو د قانون د موادو په اړوند د زیاتو نظریاتو په مینځ کې، او په عمومي توګه د ځواب ویونکو تر منځ په دې هکله چې دغه قانون یو مثبت پرمختګ وو او یوې محرومې لړکې ته چې د تاریخ په اوږدو کې پرې ستم شوی حق ورکوي څو خپل هویت څرګند کړي. سره له دې د دغه قانون د جوړولو تجربې، هغه سیال فعالین چې د قانون د منځ پانګې په هکله یې د نظر توپیرونه درلودل او همدا راز هغه کسان

[14] ځواب ویونکو راپور ورکړ چې دغه قانون د دوو افغانانو او یو ایرانی عالم په مرسته تدوین شویدی او یا د محسنی ترمشری لاندې د شیعه عالمانو د شورا له خوا

[15] دا باید په یاد وساتل شی چې قانوني د حسنی عالمی بلخی ټینګ ټلوالی دی ځکه چې دی په تیرو ټاکنو کې د قانونی معاون وو.

چې حق لري په افغانستان کې د شیعه خلکو لپاره وغږیږي، پام یې ځان ته راواړولو. د مدني ټولنې، د دیني عالمانو استازی لکه محسني، پوهانو، د شیعه ښځو او د ملي شورا د غړو ترمنځ مخالفتونه او د نظربیلوالی رامینځ ته شو. هغه څه چې په ټول بهیر کې یې شتون نه درلو هغه د خلکو ګډون وو، او د شیعه د شخصیه احوالو قانون د پالیسي جوړونکو او د هغه د اساسی عناصرو تر مینځ د کمزورې اړیکې شتون یې واضح کړ، او د عامه ګټو د څرګندولو لپاره پر ملاتړ کونکې کړنلارې د ټینګار پر ځای د سیاسي متحدینو او سازمانو د بنسټ په توګه پر قومیت، فرقې او ډلې په پرله پسی توګه ټینګار کیده. د پام وړشمیر هغه کسان چې د دغه قانون څخه ډیر اغیزمن شوې وو، یعنی ښځې، د قانون د تسوید او همدارنګه په پارلمان کې پر نوموړې قانون د بیا غور له بهیر څخه د باندې پریښودل شوې وې.

همدارنګه د شیعه د شخصیه احوالو قانون د نړیوالې ټولنې د ښکیلیدو ستونزې هم رابرسیره کړې، د مدني ټولنې ځواب ویونکې د هغه څه نه چې د هغوی په آند د ځینو مهمو سازمانونو لکه ملګرې ملتونو نړیوالی ټولنې له خوا د بی پروابی څرګندونکی وه ،ډیر ناهیلی ښکاریدل، او نړیواله ټولنه له دې ویرې چې په فرهنګي مسایلو کې د لاس وهونکو په نوم یاد نه شي ډیر محتاط چال چلند یې غوره کړی وو. کله چې نړیواله ټولنه په دغه قانون کې د تبعیض څخه د ډکو مادو په اړوند د غندنې غږ پورته کړ، نو د افغانستان حکومت په چټکی سره پر دغه قانون دغور ژمنه وکړه ، چې د مدني ټولنې د زیات تایید سره مخامخ شول او همدا راز د هغه کسانو له خوا چې په قانون کې د نه تعدیل ملاتړې وود بهرنیانو د لاسوهنې تورونه پرې ولګیدل. په پای کې یو زیات شمیر لا تر اوسه د نړیوالو او کورنیو شخړو په وړاندې د افغانستان حکومت د غبرګون رښتینې اغیزې تر پوښتنې لاندې راوړي، پداسی حال کې چې بیا کتل شوې متن د تسوید شوې قانون د منتقدینو رضایت یې تر لاسه نه کړ د ۱۳۸۸ کال د زمري د میاشتې د ټاکنو تر مینځ مهال کې هغه وخت چې په دې هکله د بشپړ بحث او د رسنیو د پوښښ لپاره فرصت هم ډیر لږ وو خپور شو.

بیلابیلو نظرونو، بحث پارونکې منځ پانګې او د مرستندیو هیوادونو او د هغو د خلکو له خوا غبرګون د شیعه د شخصیه احوالو قانون یې له ځینو اړخونو څخه د قانون جوړولو د یو استثنایي بهیر په توګه را څرګند کړ. په همدې توګه ، د افغانستان په اوسنی مقننه قوې کې د سیاسي کلتور او همدا راز د قانون جوړونې په تخنیکي کړنلارې کې د کمزوریو د څرګندولو په اړه معلومات وړاندې کوي. په راتلونکې کې دا ډول بحث پارونکې قوانین چې دیني سرچینې ولري او له ځینو اړخونو د اسلامی ارزښتونو سره په تضاد کې وي هم به ورته کمزوری ولري. په همدې ډول د شیعه د شخصیه احوالو قانون د نوې را مینځ ته شوې مدني ټولنې چې په خپله اجنډا کې بشري حقونه او د جنسیت برابري د یوې مهمې مسألې په توګه رانغاړي ، او هغه دینی عالمانو

چې په نوې قانون جوړونه کې د واک لپاره او په نوې سیاسي سیستم کې د منلو لپاره سیالي کوي، او هغه سیاسی کسانو تر مینځ چې د مجاهدینو په دوران کې را پیدا شوي او هغوی د ملاتړ سیاست د یوه خوندي ځای د موندلو په مفهوم دی، د تدریجي اړیکو را مینځ ته کیدل په ډاګه کوي.

د تشیع د شخصیه احوالو قانون د افغانستان د تیرپاتې سیاسي میراث څرګندوی دی. د افغانستان په سیاست کې د ملاتړ د شبکوځواک او د پردې تر شا معاملو او همدارنګه د شوروی اتحاد د وخت راهیسې د ځواکمنو مجاهدینو لکه عبدالرب رسول سیاف، شیخ محمد آصف محسنی د پیچلې ونډې چې په پر له پسې ډول د وفاداری پر بنسټ خپل تسلط ثابتوي، ښکارندوی دی. په همدې ډول د شیعه د شخصیه احوالو قانون د افغانستان د ډموکراسۍ د رامینځ ته کیدو د هڅو ځانګړتیاوې او د هغې پر وړاندې ننګونې هم په ډاګه کوي چې د ټولنیزې پراختیا د څوګونو مسایلو سره ډیره اړیکه لري. د خلکوسره مرکې زیاتره د ښوونې او روزنې، د رسنیو پراختیا، مذهبی مشرتابه او فرقه ای ویشنو، او همدا راز د نورو موضوعاتو تر څنګ د یوې آزادې ټولنې د غوښتنې او دیوې استازې مشر تابه په هکله د بحثونو د را مینځ ته کیدو لامل کیده. افغان ځواب ویونکو هغه پروسه یې په تکرار سره غندله کوم چې د هغې په واسطه نوموړې قانون قانوني کړنلارې خوا ته یې لاره وموندله او هغوی د سیاسي کلتور کمزوری یې د ښوونې او روزنې، قانوني خبرتیاوو او سواد سره اړوندې ګڼلې. دغه قانون د پالیسی او پراختیا د هغه پروسو په اړه چې په حکومت کې پیښیږي د هغه هویت سره چې لا تر اوسه د سیالو ځواکونو له خوا ښه ورکول کیږي پوهاوی ورکوي: یوه مدنی ټولنه چې بشری حقونو او سیکولاریزم ته تمایل لري، هغه دینی عالمان چې غواړي پر سیاست باندي خپل نفوذ وساتي، د پارلمان غړې چې د قومی او ملیشه یي اړیکو پر بنسټ د پارلمان له هغو غړو سره چې د پارلمان د دندو په اړه بیلا بیل لرلید لري سره یوځای دي، په کابل کې نړیواله ټولنه او شیعه ښځې.

د شیعه د شخصیه احوالو د قانون جوړونې د بهیر آزمایښت، دځو نورو قوانینو سره سم یې د ملی شورا په اجنډا کې لاره وموندله. ښایي یوه ډیر ورته موضوع چې طمع کیږي چې په راتلونکو څو میاشتو کې به ملی شورا ته وړاندې شي د سني کورنیو قانونامه ده، چې د سني مذهب له حنفي فقې څخه لاس ته راغلې، دغه قانون به هم د شرعي قانون له تفسیر او همدا راز د سپیڅلې قانون پر بنسټ د هغه د تفسیر او قانوني کولود حق په اړه د مالکیت د ادعاوو سره د سیالۍ وړتیا ولري. د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالې د له مینځه وړلو قانون یو بل د جوړیدو په حال کې قانون دی چې د جندر مسأله به قانون جوړونې ته وړاندې کړي. چې د ښځو د چارو د وزارت او د هغه د مدني ټولنې د همکارانو له خوا تسوید شوی او په هغه کې ځینی مادې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی جرم ګڼلې. د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ په میاشت کې دغه قانون د ولسمشر کرزي او د وزیرانو

د شورا په وړاندیز، د لږو تعدیلاتو څخه وروسته، اوس د ملی شورا څخه رایې اخیستلو ته سترګې په لار دی.

د دغې څېړنې موندنې د ځینو پیاوړو ټکو درلودونکې دي، د ساري په ډول د پارلمان د غړو له خوا د پارلمان په سیاست کې ښکاره برخه، د شیعه د شخصیه احوالو د قانون په اړوند د نظرونو د په پام کې نیولو پرته، او د پارلمان په وړاندې دهغوی درناوی د داسې یو ځای په توګه چیرې چې پالیسي خپل مشروعیت تر لاسه کوي. په همدې ډول دغه قانون داسې بدلونونه په ډاګه کړل چې کیدای شي د پارلمان د مدیریت په کړنلارې کې را مینځ ته شي او د قانون جوړونې د بهیر د نیمګړتیاوو سره به مرسته وکړي. دا د یو حسابي سیستم له لارې د بحثونو د ثبتولو او څارنې او په پارلمان کې د رایې ورکونې پر بهیرد ډیر کنټرول په ګډون، کورنۍ رسنۍ هڅوي څو د عادي کړنلارې په څارنه او د بې نظمیو په ډاګه کولو کې عملي ګامونه پورته کړي. د پالیسی بهیر ته د مدني ټولنې پیاوړې لاسرسي د پارلمان د غړو او مدني ټولنو ترمنځ د رغنده اړیکو د رامینځ ته کیدو له لارې د یوې اوږد مهالې موخې سره چې وکړای شي داسې یو چاپیریال را منځته کړي څو د ملی شورا ټول غړې دخپلو رایه ورکوونکو په وړاندې حساب ورکونکې وي باید د یو موقتې مودې لپاره یو لومړیتوب وګڼل شي. دا هغه مهال شونی دی چې کورني قوانین د خلکو او ایدیالوژیکو سیاسی ګوندونو پر ګټو ولاړ وي او د پارلمان د هر یوه غړې رایه ثبت او په عامه توګه د لاس رسی وړ وي، او هغه وخت چې د پارلمان غړې رایه ورکونکو ته پراخه لاس رسي او هغوی سره په رښتینې توګه اړیکې ولري.

## تر لاسه شوې لوستونه، مخ ته پرتې لارې او پایلې

د تشیع د شخصیه احوالو قانون د افغانستان په پارلمان کې د ظرفیت، کلتور او پروسو کې د یوې کړکۍ په توګه کار کوي. دا په دودیز ډول د ځواکمنو او نویو سیاسی فعالینو تر مینځ چې د پالیسي جوړونې په بهیر کې د ونډې په لټه کې دي، او ډیر ځله سیالې اجنډا ګانې( او بیلا بیلې شبکې) له ځانه سره راوړي، د ځواک بدلون ته ګوته نیسي. کله چې ایدیالوژیکي مخالفتونه د هغه قوانینو پر سر چې د مذهبي ارزښتونو په اړه دي را مینځ ته کیږي، پرمذهبی اصولو مالکیت د دودیزو ځواکمنو سیاسي او فرهنګي حاکمیت ته یوه ننګونه ده. دا کار په افغان سیاست کې په دې اړه چې څا د شریعت د تفسیرد سر چینو او سپیڅلو متنونو د فقې د یو مناسب مکتب تصدیق یې کړی د تدریجی تنوع د رامینځ ته کیدو لامل کیږي. د شیعه د شخصیه احوالو د قانون په برخه کې د پارلمان ښځینه غړو، د پارلمان غیر مذهبي غړو او غیر مذهبی سازمانونو د یو بل تفسیر او بیلا بیلو دیني عالمانو په لټه کې شول او په قانون جوړونې کې یې د ملایانو او د پارلمان د مذهبي غړو واکمني یې له ننګونو سره مخ کړه. که څه هم چې د بیلا بیلو سیالانو په منځ کې د مخ پر ودې د نظر اختلاف سم

مدیریت نه وو شوی او د یو رغنده بحث لپاره ځای شتون نه درلود ، په داسی حال کې چې مخالف بحثونه په وقفه یې ډول په بیلابیلو ډګرونو کې پیل شوو. د شیعه د شخصیه احوالو د قانون په اړه دغه ډګرونه د سړک ، د پارلمان او رسنیو د احتجاجونو په ګډون دي. د شیعه ګانو د ټولنې په دننه کې د شیعه د شخصیه احوالو د قانون په غبرګون کې بیلابیل ایدیالوژیکي ډلې د یو بل په وړاندې را مینځ ته شوې او هغه له پخوا نه موجودې خړپړتیاوې یې چې ځینې د افغانستان سیاست کې د لږ مذهبي والې او ځینې د ډیر مذهبي والې غوښتونکې دي لا پسې زیاتې شوې.

هغه پراخ تصور چې ګواکې د شیعه د شخصیه احوالو د قانون پر سر د سیاسی ملاتړ سوداګري شوې ده، د افغانستان په نوې سیاسی جوړښت کې د هغه اعتماد چې ګواکې د افغانستان نوی سیاسي جوړښت د قوم، او فرقی پر بنسټ متحدینو او شبکو باندې برلاسی کیدای شي، د له مینځه تللو څرګندوی دی. نو ځکه د دې ویره شته چې د فکرونو پر بنسټ ولاړ سیاست به ونه شي کړای چې د هویت پر بنسټ ولاړ سیاست ته د دې پایلو سره چې د ملی شورا غړې په څه ډول به د رایه ورکوونکو ګټې د پالیسي جوړولو ډګرته را ولیږدوي، بې لارې کړي.

سره له دې شواهد د ملی شورا د ونډې په اړه، د یو داسې ځای په توګه چیرې چې پر ټولنی حاکمو قوانینو ته په رسمی ډول مشروعیت ورکوي، د مخ په زیاتیدونکې درناوي ښکارندوی دي، او دا یې په ډاګه کړې چې محسنی او د هغه پلویان په دې هڅه کې دي خو دخپلو نظریاتو د پلې کولو لپاره دغه ډله وټاکي.

دم ګړی د قانون جوړولو په بهیر کې د نفوذ په درجه کې لږ انډول تر سترګو کیږي او په داسې یو چاپیریال کې چیرته چې سیاسی ګوندونه نه هڅول کیږي چې خپله سیاسي تګلاره د عامه ګټو پر بنسټ جوړه کړي او چیرته چې د ملی شورا غړی خپلو رایو ورکوونکوته کافی لاسرسي نه لري، عامه پراختیا ډیره لږه وي.

په افغانستان کې د ښې پالیسي جوړونې لپاره د ظرفیت پراختیا کومه آسانه لاسته راوړنه نه ده. دا په یو داسې چاپیریال کې تر سره شوی چیرې چې ډیر زیات تاوتریخوالی، په خاصې ډلو پورې زیات تړاو، ډیره زیاته بیوزلي اوکیدای شي له تیرو سیاسي دورو څخه هم لږ څه له ځانه سره راوړي.

تر ټولو آسانه فورمول چې په پخوا کې به د سیاسي عمل د تایید لپاره په کاریدو په داسې یو چاپیریال کې چې په بنسټیز ډول یې بدلون موندلی د استفادې وړ نه دی [۱۷]

---

[۱۷] ۱۷ ویلیام مالی: دبن پروسې ته یوه بله کتنه، په افغانستان کې انتقال ته ګوابښ، جفری هیس او مارک سیدرا ، د نړیوال حکومتکولو د نوښت مرکز

په بهير کې په کمزورتياو باندې پوهيدل او همدارنګه د سمون لپاره فرصتونه ډېرمهم دي ځکه چې په افغانستان کې د ډموکراسۍ د پراختيا په برخه کې ډېره زياته پانګونه شوې ده. څرنګه چې يو ځواب ويونکې په ډاګه کړه: دغه پانګه اچونه له ډالرونو څخه زياته ده ، دا د افغانانو په اړه وو چې دوی د ښه حکومتداری لپاره يې د خپلو هيلو پانګونه کړې ده.

"دلته هره ټولټاکنه د مړينې ميزان درلود. هره ټولټاکنه دلته ۲۵۰ ميليونه ډالره ارزښت لري. خلک د رايې ورکولو مرکزونو ته د رسيدو لپاره ځوميله په پښو مزل کوي تر څو رايه ورکړي"[۱۷]. د افغانستان په عامه خلکو کې د بيلابيل مدنی ژوند لپاره ژور اعتقاد شته او دا پخپله يو کافی دليل دی چې له نړدې نه د پاليسۍ برياوې او ناکامۍ ته په ځير سره وکتل شي او دا چې د هغه په اړوند بايد څه تر سره شي.

## وړانديزونه

د نومورې څېړنې پايلې يو زيات شمير مهمې سپارښتنې وړاندې کوي چې له مرکو او همدارنګه د موندنو د ترکيب څخه تر لاسه شوي دي. دغه سپارښتنې په دې لټه کې دي تر څو ځينې ځانګړې ميکانيزمونه پياوړې کړي تر څو په افغانستان کې ډموکراټيک بهيراو کلتور لا پسې پياوړې کړي. همدا راز مونږ د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د پخوانی څېړنې سپارښتنو باندې چې له دې څېړنې څخه هم تر لاسه شوې دي ټينګار کوو.[۱۸] لکه د واحدی نه ليږديدونکې رايې ورکولو سيستم د بيا کتنې اړتيا ، د سياسی ګوندونو د پراختيا او پر ايډيالوژۍ ولاړ سياستونو پياوړې کول.

۱. په فقهی مسايلو کې د يو سوله ييز پلوراليزم آسانتيا:د مذهبی چارو کميسيون، يا د حج او اوقافو د چارو وزارت بايد د شيعه او سنی عالمانو تر منځ، مدني ټولنې او په ځانګړې ډول د ښځينه سازمانونو سره د خبرو اترو رسمي فرصتونه را مينځ ته کړي. دغه فرصتونه بايد د خبرو اترو لپاره د غونډو برابرول وي چيرې چې د دوو ډلو ترمنځ رغنده بحث چې يو اړخ وکولای شي بل اړخ ته د ځانګړې ونډې، د سارې په ډول په مشورتي بورد کې خدمت کول او يا د ټولنيزو مشورو د آسانه کولو ، وړانديز وکړي. دغه فرصتونه د علماوو او مذهبي مدني ټولنې تر مينځ د دښمنی په راکمولو او د هغوی تر مينځ د اعتماد په را پيدا کولو کې اړين دي.

[۱۷] د ليکوونکې مرکه، د ټليفون په واسطه ۱۳۸۸ کال د چنګابښ د مياشتې ۸ نيټه
[۱۸] د انا لارسن سپارښتنه وکتل شی: د افغانستان نوي ديموکراتيک ګوندونه، د ديموکراتيکولو لپاره وسايل، د افغانستان د څېړنی او ارزونی څانګه، انا ، د ګټې يوه موضوع. جندر او د افغانستان په ولسی جرګه کې د شتون سياست

**۲. د ګوندونو د سیستم سمون:** د پخوانیو سپارښتونو پیاوړې کول،[۱۹] د تشیع د شخصیه احوالو قانون قضیې دا په ډاګه کړه چې د افغانستان حکومت باید په جدیت سره د ملی شورا د ټاکنو لپاره د نه لیږدیدو وړ واحدې رایې سیستم(SNTV) وړتیا ته بیا کتنه وکړي او د یو ډول نسبي استازیتوب او یا د ګوندونو د لست سیستم لپاره دې یو قانوني چاپیریال را مینځ ته کړي. د نه لیږدیدو وړ واحدې رایې سیستم پر بنسټ چې یوازې د نړۍ په دریو نورو هیوادونو کې کارول شوې، نوماندې په انفرادی ډول سیالي کوي نه د ګوند د غړو په توګه، چې د نورو ستونزو ترڅنګ د سیاسی ګوندونو د ګوښې کیدلو، د رایو د پیرودلو او لاس وهنې زیانمن کیدل او په بالقوه توګه د داسې یوې ملی شورا د رامینځ ته کیدو لامل کیدای شي چې د خلکو استازیتوب ونه کړي.[۲۰] د نه لیږدیدو وړ واحدې رایې سیستم له مینځه وړل او د ګوندي پیاوړې سیستم رامنځته کول به په ملی شورا کې د خلکو د غوښتنو د یو ښه استازیتوب آسانتیا برابره او سیاسی ګوندونه به وهڅوي تر څو داسې تګلارې را مینځ ته کړي چې وکولای شي د خلکو ګټو ته ځواب ووایي او د ملی شورا سره مرسته وکړي چې حکومت حساب ورکونکی وساتي[۲۱].

**۳. د سیاسي ګوندونو ملاتړ او تمویل:** نړیوال مرستندویان باید تخنیکي مرستې او مالي لګښت برابر کړي تر څو ډموکراټیک سیاسی ګوندونه پیاوړې او ورسره د داسې یوې کرښلارې په را مینځ ته کولو کې چې د رایه ورکونکو په وړاندې ځواب ویونکې و اوسي اوپه قانوني مسایلو کې چې را مینځ ته کیږي د ښکیلیدو د وسایلو په موندلو کې مرسته وکړي. دغه سپارښتنه تیرې کړنې ته د ورته موندنو سره، نویو ډموکراټیکو سیاسی ګوندونو د تمویل اهمیت ته اشاره کوي[۲۲].

**۴. د پارلمان د کړندود اصلاح کول:** د پارلماني چارو وزارت باید د بحثونو د ثبتولو او همدارنګه په ولسي جرګې او مشرانو جرګې کې د رایه ورکولولپاره خپل د حساب سیستم بیا وارزوي، او یو کمپیوټري او د متن جوړولو فوري سیستم معرفي کړي. د ملی شورا د پریکړو نسخې او ثبت باید د پارلمان ویب پاڼې ته واستوي ترڅو رسنیو او خلکو ته د لاسرسی وړ وي تر څو د خلکو د پوهاوي سره مرسته او د پارلمان پریکړې او رایه ورکول وارزوي.

**۵. د پارلمان د قواعدو اصلاح او پیاوړې کول:** د پارلماني چارو وزارت باید داسې ځانګړې قواعد معرفی کړي چې دهغې پر بنسټ د بیلابیلوقوانینو د اداري څرنګوالی په پام کې ونیول شي تر څو د بحثونو او رایه

[۱۹] لارسون، د افغانستان نوي دیموکراتیک ګوندونه.
[۲۰] د ساری په ډول وګورئ: د بحران ډله، په افغانستان کې سیاسی ګوندونه. د آسیا لنډیز ۳۹ ګڼه
[۲۱] اشلی ایلوت ؛په افغانستان کې د دولت جوړولو لپار د پالیسی انتخاب.د ۱۳۸۸ کال د وري میاشت
[۲۲] لارسن ؛د افغانستان نوي دیموکراتیک ګوندونه

ورکولو د تقاطع او جلبولو څخه مخنیوی وشي؛ او د پارلمان په کړنلاره کې لا نوراصلاحات راولی تر څو وکړای شي د هریو غړي رایه ورکول ثبت کړي. دا به په پارلمان کې د رایه روکولو بهیر رایه روکونکو او رسنیو ته نور هم روڼ او مسوولانه کړي.

۶. په ښې قانون جوړونه کې د رسنیو د ونډې ملاتړ: د روزنې فرصتونه باید په پرله پسې ډول د ملی رسنیو او په ځانګړې توګه هغه رسنیو ته چې د ډموکراټیک کولو په بهیر کې، خبریالانو سره په ملي شورا کې د سیاسي څیرو او فعالیتونو په هکله د پوښتنې لپاره د وسایلو او تخنیک د چمتو کولو له لارې، د رسنیو ونډه په پام کې لري تر څو په پارلماني چارو کې د څارلو ونډه تر سره کړي. په روزنه کې باید حساسیتونو او په قانون جوړولو کې د هویت له کبله د محرومیت د څرنګوالې په هکله د پوهاوي اړتیا ته ځای ورکړل شي، د قانون اغیزې پر ښځو او لږکیو ، او په قانون جوړونه کې ددغو ډلو ونډه باید په پام کې ونیول شي.

۷. د مدني ټولنې او ملی شورا دغړو تر منځ مخ پر وده اړیکې: د ملی شورا ښځینه غړې د ښځینه فعالینو شبکه باید د نورو سکتورنو او یا د ملی شورا او مدنی ټولنې ترمنځ د رغنده اړیکو د هڅولو د بیلګې په توګه و کارول شي. ورته شبکې کیدای شي د ځینو موضوعاتو لپاره را مینځ ته شي (لکه د نورو تر څنګ رسنی، ښوونه او روزنه، حقوقی سمون، د لږکیو حقونه) اوپه همدی ډول د رایه ورکوونکو پر بنسټ(د ساری په ډول غیر دولتي سازمانونه او د پارلمان غړې چې په عین ولایت کې کار کوي؛ او یا د ګډو ټولنو استازیتوب کوي)

۸. د قانون جوړونکو له خوا د حساب ورکونې هڅول: نړیوال او مرستندویه سازمانونه چې د پارلمان په پراختیایي موضوعاتو کار کوي باید دا په ډاګه کړي چې څرنګه د رایه ورکونکو او د ملی شورا د غړو ترمنځ معاملې په ښه ډول تامینیدلای شي او داسې واقعي لارې چې د پارلمان غړې وکړای شي د قانوني موضوعاتو په اړه د خپلو رایه ورکونکو نظریې تر لاسه کړي او د اندیښنې وړ موضوعاتو په اړه د هغوی سره بحث وکړي.

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړیا توګه ترلاسه کولای شئ:


**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

د ګل پلورلو سړک (د واټ څنګ) نوی ښار کابل، افغانستان

ټلیفون: ۵۸۴ ۲۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+

برېښنالیک: areu@areu.org.af

برېښنا پاڼه: www.areu.org.af